SHARIAT WEEKLY

# شريعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

څلورم کال دوه څلوېښتمه ګڼه پرله پسې (۲۳۲) يکشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال د صفر المظفر (۲۹) د۱۳۷۸هـ ش کال د غبرګولي دمياشتې(۲۳) د۱۹۹۹ميلادي کال د جون (۱۳)


# نن به په ټول هيواد کې د واکسيناسيون د ملي کمپاين دوهم پړاو پيل کيږي

## ميندي او پلرونه دي له دي چانس نه ګټه واخلي

شريعت : د واکسيناسيون د ملي کمپاين د دويم پړاو په تطبيق باندي زمونږ د ګرانو هيوادوالو د زياتي پوهيدني په مقصد چي نن د يکشنبي په ورځ د صفر المظفر د مياشتي په ۲۹ نيټه په ټول هيواد کي پيل کيږي د عامي روغتيا وزارت د يونيسف اداري او د نړي د روغتيايي سازمان لخوا د کال شيار په

زياترو سيمو کي پراخ مارشونه تر سره شول.

د شريعت اوونيزي خبريال خبر راکړ د پوليو اکسين د کمپاين دويم پړاو چي د عامي روغتياي وزارت لخوا او د يونيسف د اداري د نړي د روغتيايي سازمان او د ځينو غير حکومتي خيريه موسسو په مالي او تخنيکي همکاري سره سر له نن نه د دري ورځو لپاره په

ټول هيواد کي پيل کيږي هدف او مقصد يې د فلج د ناروغي په وړاندي له ينګښه کلني نه د ښکته کوچنيانو وقايه او د پوليو بيخي له منځه ورل دي.

دغه راز ددغه کمپاين په بهير کي د پوليو د واکسين په تطبيق بر سيره د شب کوري په ناروغي باندي د ماشومانو د اخته کيدو د

٤ مخ

### الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! همدا (عدل) ډيرنږدي دی تقوا(پرهيزګاري) ته.

(سورة المائدة)

### توجه !

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

---

د سرپرستي شوري محترم رئيس او د بهرنيو چارو محترم سرپرست وزير د عربي متحده اماراتو امير او د بهرنيو چارو وزير ته د يو پيغام په ترڅ کي :

# مونږ چمتو يو چي د سيمي له هيوادونو سره د مخدره موادو په ضد د ګډي مبارزي پروتوکول لاسليك کړو

## د افغانستان اسلامي امارت د مخدره موادو د کنترول په اړه د نړيوالي ټولني د هلو ځلو ملاتړ کوي

د مخدره موادو پر ضد د مبارزي د امارتي عالي کميسيون لوړ رتبه هيأت د عربي متحده اماراتو د بهرنيو چارو وزارت په بلنه پرون له غرمي مخکي ابوظبي ته روان شو .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ دغه هيأت د مخدره موادو په ضد د

مبارزي د امارتي عالي کميسيون د رئيس محترم الحاج ملا عبدالحميد اخند زاده په مشري چي په ترکيب کي يې ددغه کميسيون سکرتر جنرال ، د چارو د اداري د عمومي رياست د فرهنګي چارو رئيس او د بهرنيو چارو وزارت د اقتصادي اړيکو مرستيال شامل دي ټاکل

شويده د خپلي استوګني په وخت کي د عربي متحده اماراتو د مخدره موادو پر ضد د مبارزي د اړوندو ارګانونو له لوړ رتبه مقاماتو سره د علاقي وړ مسالو او په ملي او سيمه ييزه سطحه له مخدره موادو نه د رامنځته شويو ستونزو، د مخدره موادو د غير مجاز توليد ترافيکو او

استعمال پر ضد د ګډو هدفمندو مبارزو په باب د دوه اړخيزو همکاريو د ښه والي او زياتوالي په باره کي خبري اتري وکړي.

دغه راز هيأت به د سرپرستي شورا رئيس محترم الحاج ملا محمد رباني او د بهرنيو چارو وزارت د سرپرست محترم

الحاج ملا محمد حسن اخند پيغامونه د عربي متحده اماراتو امير شاغلي شيخ زايد بن سلطان ال نحيان او ددغه هيواد د بهرنيو چارو وزير شاغلي محمد بن جاسم بن جابر ال ثاني ته وړاندي کړي .

په دغو پيغامونو کي د ښو او نيکو هيلو د څرګندولو په ترڅ کي د

٤ مخ

### حد شرعي بالاي سه تن قطاع الطريق در شهر ميمنه تطبيق شد

حد شرعي بالاي سه نفر قطاع الطريق در ... پس از اصدار حکم محاکم ثلاثه و تائيد ... امير المؤمنين در محضر صد ها تن از باشنده گان ولايت فارياب در شهر ميمنه تطبيق گرديد.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر ميمنه خبر ميدهد : قطاع الطريقان هر يك بازل ولد محمد يعقوب، عبدالخالق ولد نبات محمد و عبدالرحيم ولد عبدالصمد ساکنين بركن ولسوالي بالا مرغاب ولايت بادغيس که چندي قبل استفاده سلاح در طول راه مبلغ سي ونه لك افغاني پول نقد و پنج قاب ساعت ... هموطنان ما به سرقت برده بودند توسط

ص ٤

---

د سرپرستي شوري محترم مرستيال :

# د ننګرهار ولايت د خوږيانو د ولسوالي د پچيراواګام له يو شمير سپين ږيرو او مخورو سره وکتل

د سرپرستي شورا مرستيال محترم مولوي عبدالکبير پرون له غرمي مخکي د خپل کار په دفتر

کي د ننګرهار ولايت د خوږيانو د پچير او اګام يو شمير سپين ږيري او مشران د کتني لپاره خپل حضور ته

ومنل.

د سرپرستي شورا مطبوعاتي دفتر د باختر اطلاعاتي آژانس ته خبر ورکړ

په پيل کي محترم ... جنت ګل او محترم حاجي الياس خان د ټولو ... نمايندګي

٤ مخ

---

مطابق اعلام کميساري عالي سازمان ملل در امور پناهندګان :

# تا حال چهار مليون مهاجر به افغانستان عودت نموده اند

## برنامه برګشت صد هزار مهاجر در سال جاري روي دست ګرفته شده است

اسلام آباد : بيش از چهار مليون مهاجر افغان با همکاري کميساري عالي سازمان ملل به وطن خويش برګشته اند.

اين مطلب از سوي احمد فرح نماينده اين کميساري طي کنفرانس مطبوعاتي در اسلام آباد ابراز شد. وي ګفت که سازمان ملل سعي

مي ورزد اضافه تر از صد هزار مهاجر در سال جاري به افغانستان عودت نموده و ابراز اميدواري کرد که به همين قدر مهاجر ديګر

ص ٤

---

اهالي قرا و قصبات مربوط ولسوالي سياد و لقيت ولايت سرپل با تدوير جلسه :

# حمايت شانرا از امارت اسلامي افغانستان اعلام داشتند

اهالي قرا، و قصبات مربوط ولسوالي سياد و لقيت سر پل بتاريخ ۲۸ صفر المظفر با تدوير جلسه به همکاري همه جانبه شان بخاطر تحقق اهداف و برنامه هاي امارت اسلامي تاکيد ورزيده اطمينان دادند تا آخرين رمق حيات از ارزشهاي نظام

اسلامي شان دفاع مينمايند.

خبرنګار آژانس اطلاعات باختر از ولايت سرپل خبر ميدهد درين جلسه که جمع کثيري از علماء، بزرګان و موسفيدان قراي آسته مزار، بلند غور، قيلا تور بيجي، کرتلمه، انګسک ... تورګين مربوط ولسوالي سياد

ص ٤

---

# د لوګر د لويي لاري ترميماتي کار په چټکي سره روان دي

شريعت : زمونږ خبريال خبر راکړ چي له څه مودي را په ديخوا د هغه سړک ترميماتي کار چي کابل او لوګر او لوګر ګرديز سره نښلوي په خورا تيزي سره جريان لري دغه سړک چي په پاخه او اساسي دول د امارت اسلامي په بودجه ترميميږي کيداي شي په کمه موده کي بشپړ شي.

---

# نحوه اجراآت امر بالمعروف و نهي عن المنکر ولايت هرات مورد ارزيابي قرار ګرفت

پيرامون امور ارشادي و عقيدتي ولايت هرات بتاريخ ۲۸ صفر المظفر طي نشستي صحبت به عمل آمده و اجراآت رياست امر بالمعروف و

نهي ا ز منکر آنولايت مورد ارزيابي قرار ګرفت .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : هيئت وزارت امر بالمعروف و

٤ مخ

---

محترم مولوي عبدالعزيز ضياء رئيس شرکت مرمر و رخام در مصاحبه با هفته نامه شريعت :

# شرکت مرمر و رخام مجدداً فعال و به فعاليت آغاز نمود

## مواد قابل عرضه به اندازه کافي در فابريکه موجود است

## *هر نوع فرمايش هموطنان پذيرفته ميشود.*

هموطنان محترم طوريکه اطلاع داريد فابريکه مرمر و رخام يکي از تصدبهاي پر منفعت کشور محسوب ميشد و به اثر جنګهاي ګذشته مورد دستبرد قرار ګرفته و از فعاليت باز مانده بود اما به اثر فعاليت و توجه وزارت معادن و صنايع يکبار ديګر ترميم و فعال و مورد بهره برداري قرار ګرفت . خبرنګار هفته نامه شريعت به خاطر معلومات مزيد شما عزيزان مصاحبه يي را با رئيس اين شرکت انجام داده که خدمت تان تقديم ميګردد.

اداره

محترم مولوي عبدالعزيز در آغاز چنين توضيحات ارائه نمودند : مرمر و رخام اسم با مسمي و يکي از موسسات توليدي کشور بوده احجار مورد نياز تعميرات را توليد و دستګاه خشت موزائيك و ترازو سازي داشته در جنګ هاي سالهاي ګذشته مورد دستبرد قرار ګرفته از فعاليت باز مانده بود روي اهداف عالي امارت اسلامي افغانستان و توجه مقام وزارت معادن و صنايع با مصارف مالي تاجران ملي و همکاري انجنيران و کارګران فني و سابقه دار مجدداً احيا ګرديده که

فعلاً ١٤ پايه ماشين هاي حجاري و خشت موزائيك با دو پايه ماشين سنګ شکن و ماشين چهاراره تازه فعال و روزانه توليدات هر کدام از دستګاه هاي مذکور بطور نورمال فعال ګرديده است .

از محترم مولوي صاحب عبدالعزيز پرسيده شد که شرکت مختلط مرمر و رخام نظر به توضيحاتيکه ارائه فرمودند يك فابريکه توليدي داراي سابقه طولاني بوده و در جريان جنګ هاي داخلي رژيم هاي قبلي نه تنها وسايط و مواد توليدي آن از بين رفته بلکه پرزه جات و سامان

ص ٤

---

سهار ورځپانه د خپلي سرمقالي په يوي برخي کي ليکي:

# طالبان په ولس کي د نفوذ او محبوبيت له مخي د هغوي له مخالفينو سره د پرتلي وړ ندي

## د مخالفينو جګړه يې د مقدس هدف لپاره نه ده ، د هغوي ستر امتياز له بهرنيو مغرضو هيوادو سره اړيکي دي

طالبان په اولس کي د نفوذ ، شعار او محبوبيت په لحاظ تر مخالف لوري دومره اوچت دي چي د پرتلي وړ نه دي، مخالف لوري ددي جګړي لپاره داسي توجيه نشي موندلاي چي خپل جګړه مار ځواك قرباني او سربازي ته چمتو کړي . بايد پردي ترخه واقعيت دوي

اعتراف وکړي چي په اولس کي د دوي ټول زور او قوت د بهرنيو مالي مرستو محصول دي.

دوي د کوم مقدس هدف لپاره جګړه نه کوي . ان تر دي چي پخپلو کي بي مشران سره په اختلاف کي دي او په دي اړه نشي کولي خپل وسله وال قوتونه

داسي سربازي ته چمتو کړي چي د بري تضمين بي وکړي.

که طالبان د اولس په اړه د مسؤليت احساس وکړي، ايثار ولري او له اولس سره همدردانه چلن خپل کړي نو مخالف لوري به نور هم له شعار او هدف څخه بي خونده شي. خو مخالفين يو امتياز داري

٤ مخ

---

# په کابل پوهنتون کي د واليبال پسرلني لوبي رواني دي

شريعت : کابل پوهنتون د بيلا بيلو پوهنځيو د واليبال په پسرلنيو لوبو کي د حقوقو د پوهنځي الف ټيم لمړي مقام وګاټه .

په دغو لوبو کي چي د کابل پوهنتون د پوهنځيو د واليبال بيلا بيلو ټيمونو ګډون کړي و د فاينل په لوبه کي د حقوقو د پوهنځي الف ټيم د حقوقو د پوهنځي پر ب ټيم باندي بريالي او د لوبو اتل ويلل شو . د لوبو په پاي کي په بريالي ټيمونو باندي د اتلوالي کپونه او ستاينليکونه وويشل شول.

---

# مشکلات و پرابلم هاي برخي از ولسوالي هاي صفحات شمال کشور مورد غور و بررسي قرار ګرفت

مشکلات و پرابلم هاي اهالي بعضي از ولسوالي هاي صفحات شمال کشور ديروز طي نشستي مورد بررسي و ارزيابي قرار ګرفت .

آژانس اطلاعات باختر از ولايت بلخ خبر

ميدهد محترم م ملا خير الله خيرخواه سرپرست وزارت امور داخله بتاريخ ۲۸ صفر المظفر در شهر مزار شريف با عده يي از موسفيدان ولسوالي هاي بلخ

ص ٤

---

# د بغلان د فتبال ټيم د بلخ د فتبال په ټيم بريالي شو

شريعت : د بغلان ولايت د فوټبال د استقلال ټيم د بلخ ولايت د ام البلاد د فوټبال په ټيم بريالي شو .

د فتبال په هغي دوستانه لوبه کي چي پرون د بلخ ولايت د ام البلاد او د بغلان

ولايت د استقلال د ټيمونو تر منځ د بغلان ولايت د کرني ليسي په چمن کي تر سره شوه لوبه د يوه په مقابل کي په دوو سره د بغلان ولايت د استقلال د ټيم په ګټه پايته ورسيده .

---

# سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

## نړيوال دي د امنيت شورا دفن کړي که ټول دائمي غړي يې داسي بد ماشان وي

روسيه، فرانسه، هند او ځني بدکرداره ګاونډيان د افغانستان د ملت د سر، مال او عزتونو له دښمنانو سره بر آلا مالي او پوځي مرستي کوي او غواړي چي د افغانانو د لسګونو کلونو کړاوونه نور هم اوږده کړي ، په داسي حال کي چي فرانسه د امنيت شورا دايمي غړي هيواد دي روسيه هم د متوفا شوروي په ميراث کي دا غړيتوب لري او هند به هم ډير ګله ددغه غړيتوب هڅي کړي وي.

د امنيت شورا بنسټ خو په نړي کي د امن راوستلو لپاره ايښودل شوي ؤ نو بيا څرنګه بي ټول غړي - څوك په ښکاره او څوك په پټه- په نړي کي د بدماشي او بدماشانو رهبري کوي ؟

له دي امله دي نړيوال د امن په نوم جوړ شوي د بدماشانو کور په يوه

۲ مخ

# شريعت

دتأسيس كال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليكوال هيئت ترنظر لاندي
مسؤول مدير : عبدالرحيم «ثاقب»
مرستيال : ملا أسد الله «حنيفي»
ديوي ګڼي بيه : په هيواد کي (۱۰۰۰) افغاني په پاکستان کي (۳) کلداري
پست بکس : (٤٧۱) کابل - افغانستان تيلفون : ۲۱۳۸۱
په پېښور کي : دطالبانو نمايندګي تيلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مركز
چاپ : دولتي مطبعه


## د سرمقالي پاتي برخه

ژوره كنده كي خښ كړي او تړي دي ورنه بي غمه كړي؛

آن جهاني شوروي خو غوښتل چي د تړي د ډېرو مظلومو او مستضعفو پرګنو په څېر افغانستان هم تر خپل زهرجن ستوني تېر كړي، مګر د تنګياليو دغه ټاټوبي ورته زهر قاتل شو او خپل سر بي ورباندي بايلود؛

اوس بي په ميراث ناسته روسيه او د هغي ولس مشر چي دواړه تقريباً د كوما په حال كي ژوند كوي د افغانستان له دښمني نه لاس نه اخلي ځكه روسيه خپله چاره په اوبو كي ويني چي كه د افغانستان اسلامي امارت په هيواد كي نظم او ثبات ټينګ كړي نو افغانان به د خپلو بشري او مالي تاوانونو په سر روسيه تر ستوني ونيسي او هرو مرو به خپل حق ور څخه واخلي، مګر روس په دغه محاسبه كي غلط شوي دي ځكه چي هغه په مليونونو ډالره چي د افغانستان د اسلامي امارت په مخالفينو بي لګوي د افغانانو د تاوان غټه برخه بي پوره كولاي شواي او هم به بي د خپل هيواد ګټي په سيمه كي او له افغانانو سره د ښو اړيكو په لرلو خوندي كړي وي، په هغه صورت كي به غيرتمنو افغانانو د زماني اسانتياوو رعايت هم ورسره كړي ؤ اوس چي د افغانستان د اسلامي امارت مخالفينو ته د تاجكستان په كولاب كي كورونه جوړوي او په دغه ترتيب سره د **امنيت شورا غړي اوږدي بي امني او اوږدو كړاوونو پيدا كولو ته ملاتړلي ده د كتونكو په ګمان به ددغو لګښتونو غټه برخه د روسيي په غاړه وي نه د هند او فرانسي؛**

روسيي به دا پټېيلي وي چي په دغه كار سره او د پوځي اډي په جوړولو سره به تاجكستان د تل لپاره خپله مستعمره وساتي او هم به د افغانانو كړاوونه اوږده كړي، خو دا محاسبه ولي نه كوي چي سبا د رحمانوف بي ريښي رژيم نسكور او هلته د تاجكستان د خلكو د خپلي خوښي حكومت او دولت جوړ شي نو روسيي ته به بيا څه په لاس ورشي ؟

ځكه چي هغه حكومت به د خپل هيواد ګټي له افغانستان سره د ښو اړيكو په لرلو كي لټوي نه د خواري او مفلسي روسيي په غلامي كي؛

دا خو د امنيت شورا د يوه غړي د امن(!) كارنامو ته يوه ځغلنده كتنه وه پاته شو د امنيت د شورا بل مهم دايمي غړي فرانسه : زمونږ په هيواد كي د فرانسي لاس وهنه تل په مرموزه او پټه توګه راچليدلي ده خو دا اوس چي په كولاب كي د هيواد د اخلي دښمنانو ته كلي او كورونه ودانوي نوبي پرده وشليدله، د فرانسي د لاس وهني علل او فكتورونه هم مرموز دي، څه چي ښكاره دي هغه له احمد شاه مسعود سره د فرانسي ځانګړي اړيكي دي چي غټه برخه بي زمونږ د هيواد قيمتي كاڼي دي چي له كلونو راهيسي بي احمد شاه په غير فني توګه راټولوي، په فرانسه او ځينو نورو بي په نيمه بيه پلوري؛د فرانسي دغه اشنايي له مسعود سره د شوروي قواوو د يرغل له وخته پيل شوي ده ، ويل كيږي چي له هغه وخت نه د مسعود په سنګركي د فرانسي دپاڅه عمر پوځي مشاورين يا د جاسوسي د اداري غړي، ډېري‌پيسي او بي مخي فرانسوي ښځي ليدل شوي دي ، د فرانسي كه نور هر څه مقصدونه وي هغه به وي خو د امنيت شورا ددايمي غړي په صفت له روسيي سره په ګډه په كولاب كي د مخالفت د دوام لپاره مخالفينو ته د كورونو په جوړولو كي ونډه اخلي، دا ؤ د امنيت د شورا د يو بل غړي هلي ځلي د امن (!) لپاره !

د امنيت شورا نور غړي هم شته چي په افغانستان كي په اوسني امن او كراري ببخي خپه دي څومره بي چي وس وي په ښكاره يا پټه د سيمي امنيت او د افغانستان اسلامي امارت ته اوبه خړوي، اوس به هند ته وګورو چي په خپله دغه سياسي، پوځي او اقتصادي بده ورځ كي د افغانستان د اسلامي امارت سره د څه لپاره دښمني كوي !

له هغه وخته چي هند او پاكستان له برتانوي استعمار نه ازادي تر لاسه كړه له هغه وخته د دواړو تر منځ كړاوونه شته او له هغي ورځي نه هند له شوروي اتحاد سره د دوستي اړيكي پيل كړي دي او ډېري پوځي او اقتصادي مرستي بي ورنه اخستي دي اوس له روسيي سره هماغه زړه اشنايي پالي،

هند له افغانستان سره له پيل نه د دوستي دعوه كوله خو دغه دوستي فرمايشي وه لكه چي د ظاهر شاه او داوود د حكومتونو دښمني له پاكستان سره د شوروي په فرمايش وه؛ د پخواني مشرقي پاكستان او اوسني بنګله ديش له پاكستان څخه د بېلولو په كار كي هند او شوروي د پاكستان په خلاف غټ پوځي او سياسي ګوذارونه وكړل؛

بيا په افغانستان د شوروي د يرغل په وخت معلومه شوه چي پاكستان له افغانانو سره څومره خواخوږي وښودله؟ او هند د شوروي نه لاس پوځي رژيم سره څومره كلك ولاړ ؤ او له عامو افغانانو سره بي څومره دښمني وه ؟

دا اوس چي هند په خپله سياسي پوځي او اقتصادي بده ورځ كي د افغانستان د اسلامي امارت له مخالفينو سره پوځي، مالي او سياسي مرستي كوي او په كولاب كي كورونه ورته جوړوي داواړه له روسيي سره د دوستي پالني لپاره دي، كتونكي په دي باور دي چي دغه مرستي به هيڅ ګټه ورته ونه كړي، **كه د هند واكمنان په سيمه كي د خپل هيواد ګټي په پام كي لري نو د افغانستان له اوسني واكمن نظام سره دي دښمني ته دوام نه وركوي او د ښو اړيكو په لټه كي دي شي.**

## په اسلام کې د ښکلا خوښونې احساس

قاضي محمد حسن«حقيار»

د اسلام ځني دښمنان په شعوري توګه دا ډول پروپاګند كوي او ځني ساده دوستان بي بيا په غير شعوري ډول داسي انګيري چي ګويا د اسلام سپېڅلي دين د سختي ، ستوماني، كار زيار، بوازي د لمانځه اوداسه مسجد او مصلي دين دي، د دوي په فكر اسلام له اسلامي ټولني څخه غواړي چي تل خيرن، بسرسر، نا منظم صورت ولري، ځانونه بوازي له روژي ، لمانځه او معنوي تړاو سره بلد كړي، له سايښي پر مختګونو پردي ، له لطيفه فنونو سره وران او د ښكلا له ليدلو څخه سترګي وګنډي، دوي نورلګوي چي په اسلام كي خندا او خوښي، نشاطت او ساعت تيري، د ښكلا له ويړمو او د طبيعت له رنګينيو څخه خوند اخستل نشته دي د دوي په اند په اسلام كي شونډو ته د تبسم او خندا، زړه ته د خوشحالي ، مخ ته د تازه ګي انګو ته د سرخي او تندي ته د ورين توب اجازه نشته ده او په نړي كي د ښكلا تخليق بوازي بوهازموينه ده خوند اخستل او بري سترګي پخول دواړه ناروا دي لومړي خو دي ښكلا ته دبوي رټل شوي پدبدي په سترګه وكتل شي او له كيني او نفرت نه ډك چلند دي ورسره وشي او كه داسي نه وي نو سترګي پټول خو تري حتمي دي.

له بده مرغه چي دي مردود نظر او فكر ته د ځنو هغو خلكو كړو وړو لا ډېر قوت وركړېدي چي د سلګونو كالو راهيسي بي خپل شخصيت او فرنګوالي په اسلام تحميل كړېدي هغه چي ځان د اسلام سمبول او خپل عملونه د اسلام فورمول بولي چي هيڅكله هم تري خوږه خبره ، په مخ د خندا ټكپه او په تندي كي ورين والي ونه ليدل شو، هغه چي زيږ او خشن چلند، ترخي خبري او شوم كركتر ثواب بولي دا هغه پاټكي دي چي له خپل راتلونكي نهيلي، د ژوندانه په ډګر كي ناكام او

يا په عصبي او يا نورو ناروغيو اخته دي. خو په دي خاطر چي زمونږ په نالوستي ټولنه بي ځان منلي وي متأسفانه چي د اسلام د ليدلو لپاره خلكو ته خپل ځان هنداره كوي او خپل ځان د اسلام د ترجماني لپاره نوروته وړيښئي.

پر عكس ځني چي بيا ځانونه اسلامي روڼ اندي او له اسلامي كلتور نه با خبر بولي هغوي بيا له دومره افراط نه كار اخلي چي ټول چوكاټونه بي مات كړي، ديوالونه بي نړولي او واګي بي شلولي دي د دوي په اند بيا د ژوند هدف بوازي لوبي مستي، شهوت پالنه همجنس بازي دي. چي د افراط او تفريط دي وربځو حقايق پټ كړي او د حقيقت لمر بي مسخ كړېدي.

مونږ به هڅه وكړو چي تر خپله وسه په لنډ ډول دي مسئلي ته ګوته ونيسو چي د اسلام مقدس دين ښكلا ته په څومره اهميت قايل دي ؟ ددي كائناتو په تخليق كي ښكلا ته په كومه سترګه كتل شويدي ؟ ايا په دي كائناتو كي له مصنوعيت پرته په فطري ډول د ښكلا كوم ځرك هم ليدل كيږي او كه نه ؟ هيله ده چي د اسلامي تصور رښتوني ترجماني مي كړې وي .

ځرنګه چي د فن روح په ښكلا پوهيدل او د جمال تعبير دي نو بيا اسلام تر ټولو لوي دين دي چي د هر مسلمان د زړه په تل كي بي د ښكلا مينه او له ښكلا نه د خوند اخستلو احساس كرلي دي. د بشريت ستر لارښود او د بوازيني فطري قانون د سر چيني «عظيم الشان قرآن» لوستونكي دا حقيقت له

هر چا ډېر ښه درك كولي شي چي اسلام له مسلمانانو څخه غواړي چي د خپل فكر او شعور سترګي په هغي ښكلا ور وټومبي چي په طبيعي ډول په دي كائناتو كي پرته دي . هغه كائنات چي د بوي رباني او الهي ختني په توګه پري د فطري حسن پيرزوينه او كرشمي انځور دي او الله «ج» بي د بوي بي بيلګي او ممتاز نقاش په توګه په خپل مبارك او بلا كيفيه لاس انځور كړي دي او په ډېري ښكلي بڼي بي پيدا كړېدي : «الذي احسن كل ... » يعني هغه ذات چي هر شي بي پيدا كړ ډېر ښه بي پيدا كړ « السجده ۷ » ما تري في خلق الرحمن ... « يعني » ته به نه وني ته په پيدايښت د رحمن كي هيڅ تفاوت (خلل عيب يا كمښت) « الملك ۳ » صنع الله الذي اتقن... « يعني » كار كول د الله«ج» هغه چي درست كړي بي دي هر څيز» النمل ۸۸ اتقان په عربي ژبه كي په ښه توګه د يو كار تر سره كولو ته وايي «الله«ج» دا كائنات په ډېر ښكلي بڼي پيدا كړېدي او ښكلا بي هم له مبدا پېړ نده هغه ددي كائناتو په هره برخه كي د پرتي ښكلا د ليدلو ... زړونه، سترګي او فكر ... .

الله«ج» نو ړند چي بشري حس وبش شي ، «هڅېږي د هغي ښكلا موندلو او له هغي نه د خوند خستلو په لټه كي

شي چي الله«ج» په مونږ او زمونږ چاپېر چل كي پيدا كړېده . الله«ج» دا كائنات د همدي لپاره ښكلي تازه او رنګين پيدا كړېدي چي بنده ګان بي د خوروور حسن په ليدلو خپل زړونه تازه او ارواوي له سكون نه ډكي كړي . كه الله «ج» د ښكلا د مزاياو د ځكلو او له ښكلا نه د خوند اخستلو مخالف واي نو په دي خوره وره نړي كي د دومره فطري ښكلا پيدا كول او ددي ښكلا كتلو ته د انسانو هڅول د څه لپاره ؟

دا لوړ لوړ په واوريټ غرونه، دا پړ-قيدونكي ستوري، دا طبيعي رنګيني او كرشمي دا په ګلونو پټ باغونه د څه لپاره پيدا شويدي؟ د اسلام له مطالعي څخه په زغرده ځرګنديږي چي اسلام ښكلا او تجمل ته ځانګړي اهميت وركوي، د انساني ژوند يوه برخه بي بولي . اسلام نه بوازي دا چي د ښكلا فن تائيدوي بلكه په بنده ګانو كي د ښكلا د شعور د راويښولو هڅه هم كوي . اسلام مسلمانانو ته درس وركوي چي په نړي كي هر څه د انسانانو لپاره پيدا شويدي او له هر څه نه ور ته ګټه اخستل روا دي «او دا هغه ذات چي هر څه بي ستاسي لپاره پيدا كړي » خو ددي ګټي اخستني لپاره بي ورته پولي او حدود ټاكلي دي . همدا راز له ښكلا نه ګټه اخستل هم ځانته شرطونه لري هغه دا چي په دي كار كي كوم ناوړه غرض نغښتي نه وي ، په فساد منتج نه شي، تخريبي اړخ ونه لري ګټور او تعميري وي.

پاتي لري

## كوسوا د نړيوال ښكيلاك د دسيسو په درشل كي

مولوي عبدالغفار«هاشمي»

كوسوا چي په خپله محلي ژبي ورته سپيڅلي ځكه وايي د بلقان په سيمه كي پرته ده شمال غرب ته بي البانيا او جنوب لور ته بي بوسنيا هرزګوينا موقعيت لري، د وګړو شمېر بي دوه مليونو ته رسيږي چي ۹۵ په سلو كي البانوي الاصله مسلمانان دي دا سيمه په نهم او لسم هجري قرن كي د اسلام په لمر ځرك روښانه شوه چي وروسته بيا له همدي سيمي څخه د بلقان نوره منطقه هم د اسلامي حاكميت تر قلمرو لاندي راغله . كوسوايي مسلمان د عثماني خلافت له مهمو پوځيانو او تكړه عسكرو څخه حسابيدل او د بلقان په ټوله سيمه كي د اسلام د مقدس دين په خپريدو كي اغيز من رول درلود. له لومړي نړي والي جګړي نه را وروسته يوګوسلاويايي چارواكو د كوسوا ايالت له البانيا څخه جلا او تر خپل قلمرو لاندي كړ . خو په دوهمه نړيواله جګړه كي كله چي يوګوسلاويا په څو ورو ايالتونو ووېشل شوه د كوسووا ايالت بيرته د البانيا مربوط شو خو اداري نظام بي كمونستي وڅو موده وروسته بيا تر فدرالي نظام لاندي راغله او بياي په كال ۱۹۷٤ كي د خپلواكي اعلان وكړ .

په كال ۱۹۸۹ د يوګوسلاويا جمهور رئيس سلوبدان ملاو سويچ د كوسوايي مسلمانو دغه خپلواكي لغوه اعلان كړه او په دي لټه كي شو چي ځرنګه وكولي شي چي دا سيمه د مسلمانانو له وجود څخه پاكه كړي .

ددي الحادي پروګرام د عملي كولو لپاره بي راز راز طريقي پكار واچولي لومړي بي مسلمانان داسلامي شعايرو له اداكولو نه منع كړل . مسلمانانو ددي اجازه نه لرله چي په خپلو ځانو اسلامي نومونه كيږدي . په كال ۱۹۹۲ كي په مسلمانانو باندي د اسلامي تعليماتو بنديز ولګاوه د هغوي تعليمي

نصاب بي بلكل لغوه كړ د صربيانو دغه اسلام ضد پروګرامونه په تدريجي توګه په كوسوا كي مسلمانانو باندي تطبيق كيدل هغوي غوښتل چي له اساس نه په كوسواكي اسلامي عقيده له منځه يوسي هغه كوسوايي نوي ځوانان چي ټولني ته راځي هغه بايد نه خپل پلار وپيژني او نه د هغه د نسب سلسله .

د صربيانو دغو استعماري كړو وړو كوسوايي مسلمانان دي ته مجبور كړو چي له ځان څخه ددفاع په خاطر د يوه مستقل خپلواكه ايالت اعلان وكړي . هغه و چي كوسوايي مسلمانانو د ۱۹۹۲ په اواخرو كي كوسوا د مسلمانانو د يوه خودمختاره دولت او ايالت په توګه اعلان كړه خو د صربانو لخوا د مسلمانانو ددي كار سخت مخالفت وشو او د هغوي استقلال ته بي هيڅ اجازه ورنكړه .

كوسوايي مسلمانان چي په ډېرو نازكو شرايطو كي قرار درلود داخلي ځلي زكړي چي له جنګ نه پرته له سياسي لارو چارو څخه له صربانو سره دغه لانجه حل كړي خو كومه ګټه بي تر لاسه نكړه .

كله چي صربان پدي وپوهيدل چي مسلمانان تر خپلي خود مختاري او استقلال له تيريږي نو سمدستي بي په لس ګونو زره پوځيان كوسوانه وليږل او هلته بي د سيمي

د مسلمانانو اوسيدونكو په ضد وسله وال حركت پيل كړ كه څه هم صربانو دغه كار له ۱۹۹۲ نه شروع كړي ؤ خو په كال ۱۹۹۷ بيا تر ۱۹۹۹ پوري بي شدت پيدا كړ . په كال ۱۹۹۹ كي په منظمه توګه صربانو د مسلمانانو په له منځه وړلو باندي پيل وكړ .

د هغوي شخصي ملكيتونه بي غصب كړل هغوي بي د سيمي پري ښودلو ته مجبور كړل ډېر شمېر بي ووژل ، بنديان بي كړو ټوله شتمني او دارائي بي ور چور كړه ، د صربانو لخوا په كوسوا كي د مسلمانانو په ضد ټول هغه جرايم تر سره شول چي تر هغه له مخه په بوسنيا كي د مسلمانانو په ضد تر سره شوي و . د كوسوايي مسلمانانو په ضد د وحشي صربانو دغه جرايم ددي موجب شول چي هغوي نورو ګاونډيو **هيوادونو لكه البانيا او مقدونيا ته مهاجر شي.**

نړيوالو خبري آژانسونو د صربيانو له لوري د مسلمانانو د عامه وژنو، نسل پاكي، دسته جمعي قبرونو ، د كليو او ښارونو سوځونه ، سپين ږيرو او هلكانو او ښځو وژل او د هغوي په عفت تيري كولو خبرونه خپاره كړل

د كوسوايي مسلمانانو په ضد صربي جنايات ټولي نړي په سترګو وليدل نړيوالو تلويزونونو هره ورځ د هغوي زړه دردوونكي تصويرونه نړيوالو ته وښودل خو

نه د بشر د حقوق مدافعانو په هغو غور وكړ نه ملګرو ملتونو او نه هم اسلامي كانفرانس.

فقط اسلامي كنفرانس دومره وكړه چي خپلي اضطراري غونډي كي بي د صربانو دغه عمل په سختو الفاظو وغانده هغه بي يو وحشي عمل وباله؛ د صربانو لخوا د كوسوايي مسلمانانو په ضد دغه كار په حقيقت كي يو منظم ترتيب شوي پلان و او هغه دا چي مخكي لدي چي اروپا د يوه واحد قوت او واحدي اداري په حيث اعلان شي بايد په هغي كي د مسلمان په نوم څوك وجود ونلري.

ځكه ظالمو وحشي صليبي صربانو ته هغه تاريخي واقعه چي د «قوسوه» په سيمه كي څو كاله پخوا د عثماني خلافت د پوځيانو لخوا ورباندي تيره شوي وه ښه ياده وه كومه كي چي هغوي د عثماني خلافت د ځواكونو په مقابل كي ښه ماتي خوړلي وه .

صليبي صربان پدي باورد ي چي د بلقان په سيمه كي د مسلمانانو وجود د هغوي په زيات زيان تماميږي له همدي امله هغوي پدي لټه كي دي چي د همدي سيمي څخه د مسلمانانو د نسل ورك كړي هغوي پنځه كاله له مخه په بوسنيا كي همدا شاني د مسلمانانو په له منځه وړلو باندي لاس پوري كړ او هلته بي نژدي دوسوه زره بوسنيايي مسلمانان په ډېره وحشيانه توګه شهيدان كړل او نژدي پنځوس زره يا عفيفه مسلماني بوسنيايي ميرمني خپلو پوځي مركزونو ته **له ځانه سره بوتللي. چي د هغوي په عفت تيري وكړي هلته نه د بشرد** حقوق سازمان او نه هم ملګرو ملتونو د ښځو د حقوقو او يا د بشري حقوقو د دفاع په منظور كوم غږ پورته كړ .

پاتي لري

## شركت مرمر و رخام مجدداً فعال و ...

آلات دستګاه حجاري، موزائيك ، تراش سازي و حكاكي آن بكلي از بين برده شده بود لطفاً نحوه فعاليت مجدد اين را نيز توضيح نمائيد وي در جواب چنين اظهار نمودند : مقام وزارت معادن و صنايع با جلب و جذب تاجران ملي و مصارف مالي شان موسسه را به يك شركت مختلط در آورده در مرحله اول به ترميم و تكميل كمبودات فابريكه و عمارات پرداخته بعداً پرزه، سامان آلات دستګاه ها را تاجائيكه در داخل كشور ميسر بود تهيه و در برخي از موارد با تجارب و اهليت كارګران فني بداخل وركشاپ موسسه به اكمال كمبودات پرداخته و بعضي پرزه جات و سامان آلات بارز نيز وجوه مالي تاجر قراردادي تهيه و دستګاه برق كه روح

فابريكه را تشكيل مي داد كاملاً از بين برده شده بود برج برق و ترانسفارمر به ظرفيت ٦۳۰ كيلووات توسط الجنيران وزارت آب و برق و همكاري وزارت اطلاعات و كلتور فعال ګرديد تا اينكه فابريكه مرمر و رخام مجدداً آماده فعاليت شد.

زمانيكه از رئيس عامل مرمر و رخام سوال ګرديد كه فعلاً فابريكه داراي چند نفر پرسونل اداري و فني ميباشد در جواب توضيح نمود كه اكنون به تعداد ۸ نفر پرسونل اداري و تعداد ۲۰ نفر كارګران فني و ۸ نفر پرسونل خدماتي بوده كه با عرق ريزي بلا انقطاع در توليد و دفتر داري مصروف هستند. در حصه تهيه مواد اعم از احجاريكه منحيث مواد خام بدست مي آيد

محترم مولوي صاحب ګفتند : كه تهيه احجار از طرف رياست موسسه به همكاري شركاي شركت مختلط از معدن ده خيل كابل و معادن ميدان وردك صورت مي ګيرد وجوه مالي استخراج احجار از معدن و آماده كردن انتقال به فابريكه از طرف شركت پرداخته مي شود.

راجع به توليد ، انداز كار هر دستګاه محترم مولوي عبدالعزيز چنين معلومات ارائه نمودند : توليد حجار صورت عمارات روزانه ۲٥۲۲۰ متر مربع و از خشت موزائيك در يك روز به تعداد ۳ قالب به سطح ٥۰×٥۰ متر مربع ميباشد كه بر علاوه توليد و كار كرد ٤ پايه ماشين قطع و صيقل كاري احجار و خشت موزائيك دو پايه ماشين هاي سنګ شكن و يك دستګاه چهاراره درين اواخر فعال ګرديد، كه ماشين هاي سنګ شكن روزانه به تعداد دو ... متر

مربع حقلي و دستګاه چهار اره در هر يك ساعت در حدود ۳ تا ٤ متر مربع سنګ هاي كنده را برش مينمايد حجم توليد همه دستګاه هاي فابريكه مربوط به فعال بودن دستګاه از نګاه انرژي برق ميباشد.

هكذا در رابطه به موضوع عرضه مواد توليد شده را از رئيس شركت جويا شديم چنين اظهار داشتند : كه مواد قابل عرضه باندازه كافي در فابريكه موجود است چنانچه درين باره كتباً دواير و وزارت خانه ها و روي پوستر ها هشهريان عزيز را از موجوديت **احجار در سايز هاي مختلف و خشت موزائيك مطلع ساخته ايم فابريكه با داشتن كارګران فني و پرسونل مجرب طور مداوم توليدات داشته و اين پروسه دوام دارد و هر نوع فرمايش هموطنان عزيز پذيرفته ميشود.**

# د یاد وړ

بناد من

د شپې اوښکې د گل پر مخ ځلیدې خو شپې د نړې ځخه رخصت اخستې دلمر و زرینو وړانگو د روښنایې پیغامونه یوه بله خوا ځغلول. بلبل په ژړا ، ژړا د گل څنگ ته ناست و او د خپلې میني نغمې یې ورته اوروله.
گل چې د خزان له باده سره نه و مخامخ شوي د ژوند ترخې خوږې یې نه وې لیدلي په ډېر تکبر یې بلبل ته وویل : اې بیچاره ! تر څو به ژاړې تا ته نه ده معلومه چې طمع څومره لویه بلا ده . په ژړا څه نه وه جوړه . بلبل چې له سترگو ځخه د زړه ارمانونه اورول په عاجزې ورته وویل : کله ! زه ستا په لطافت او ظرافت مین یم. ماته د ستا په سترگو کې د جوړونکي صفت له ورایه ښکاري .
هو!
ځکه په خپل حسن مه مغروره کیږه ژر ده چې د خزان سیلي دې ورژوي. څه وخت لا نه و تیر شوي چې د گل څواني ولاړه او د ځنکدن سلگې یې پیل کړې . د ژوند په اخري وخت کې یې په مرموز حال له خولې ځخه داسې وینا پیل کړه :

« خپلو کړومې په نصیب دغه خوارې کړه
چې د نورو پر ماتم به مې ښادې کړه
پردې غولې تر سحره نه لگیږي
په خپل وار به د هر چا ځ یوې مړې کیږي
دا جهان د مکافات دې چه تیر نه وزي
که ته نور په ویر کښیباسې ته به ووزې
د خوږ منو زړو له آه کناره شه
که ملهم ور لره نشې مالگه مه شه

# حسابي خبري

الفت

استاد ویل : تاسې باید هر وخت له ځان سره حساب وکړې. او حسابي خلك اوسی! ده یو حسابي درس دا و : که یو عدد د بل سره داسې یو ځاي کړو چې یو پاس او بل لاندي وي لکه :     نو څلور ترینه جوړیږي او د دواړو وجود هم پخپل حال نه پاتې کیږي که دواړه څنگ په څنگ یو ځاي کړو لکه : ۲ ۲ نو دوه ویشت ترینه جوړیږي او دوه شل کیږي . د دواړو عددو شکلونه او صورتونه هم پخپل حال پاتي کیږي ځکه چي دلته د ملگرتیا او ورورولي راز پټ دي او په هغه بل صورت کي تفوق، تسلط او محوه کول معلومیږي .
ده ویل : که دوه مساوي عددونه لکه :(۱-۱)،(۲-۲)،(۳-۳)، هر یو له بل وړاندي یا وروسته کړو نتیجه یې یوه ده مگر په دوه متفاوتو عددونو کي تقدیم او تاخیر ډېر زیات فرق راولي او په مقدار کي ډېر زیات تفاوت راځي که موږ یو او نه یو ځاي کړو او داسې یې لیکو ۱۹ نولس کیږي مگر شل کیږي نه که همدغه دوه عددونه داسې ولیکو ۹۱ خبره سلو ته نږدې کیږي او ډېر زیاتوالي پکي راځي .

# د شعر او ادب لړۍ

# توشیح

بزال

خدایه ماته شهادت د دین په لار را
د بستر له بې سپرته مرگ کنار را
وسیله مې خپل وصال ته محبت کړې
چې په سترگو کې مې خوږدي هغه یار را
الهي په عاجزي درته دا سوال کړم
زړه صیقل سینه صفا ژبه مهار را
رزیله خویونه لرې مې له نفس کړې
د حق لور ته توان طاقت د انتظار را
که یاران را باندې لوروي د فضل
دوست دښمن راته په دین دنیا هوښیار را
«بزال» ستا د قهر غضب له ویرې ریږدي
خم د رحم یا غني پروردگار را

# آتش

شفیقي

این دفتر اشعار را امروز آتش میزنم
گفتم که این گفتار را امروز آتش میزنم
چُن ناله هاي زار من، مي نشنود دلدار من
این ناله هاي زار را امروز آتش میزنم
تا آه آتشبار من کار کند با یار من
این آه آتش بار را امروز آتش میزنم
انکار عشق است اي جوان انکار خورشید جهان
من منکر و انکار را امروز آتش میزنم
تا عشق را ثابت کنم در پیش روي مدعي
منصور را و دار را امروز آتش میزنم
تا عشق را افروختم جان «شفیقي» سوختم
این عاشق تبدار را امروز آتش میزنم

# آزادي

احمد شاه

در انتهاي ساکت آن آبي آسمان
از لابلاي دود سیاه و سپیدا بر
در هفت رنگ او
شاید مرا بخواب
آید صداي او
کازاد گشته ایم
از پشت سنگر مردان با وفا

از میله ي تفنگ
از گنبد بزرگ
پیچد صداي او
تا عرشه ي بلند
آید صداي عشق
کازاد گشته ایم
پرمي کشم ز خواب
با دیدگان باز
هر سو چو بنگریم
ناید کسي به چشم
لیکن بگوش من
چون ساز عاشقان
آید همان
صدا
کازاد گشته ایم
کازاد گشته ایم

# نظر رحمت

ملا آقا «سالك»

محفل شادي یاران چه خوش باشد و بس
مجمع شمع فروزان چه خوش باشد و بس
غنچه ها در چمن عشق، شگفته همي
بلبل مست و غزلخوان چه خوش باشد و بس
قامت یار بود آراسته، چو سرو وسهي
نغمه ي سوز و خروشان چه خوش باشد و بس
جلوه ي ناز ترا من به دو عالم ندهم
محرم راز نمایان چه خوش باشد و بس
بهر ما کافي بود یک نظر رحمت تو
لطف همواره ي جانان چه خوش باشد و بس
حمد حق گفت «سالک» غرق تجلي جانان
زمزمه شعر شکوفان چه خوش باشد و بس

# سر خوشان عشق

ضیا

این پر دلان که در صف پیکار میروند
مستانه وار در طلب یار میروند
بیخود ز خویشتن شده اند آن سبکروان
حلاج سان بپاي سردار میروند
هر چند نا خوشند زیاران بي خرد
سینه سپر بجانب اغیار میروند
از مهر کاروان تو مجو راه خویش را
هر یك بسان قافله سالار میروند
تا کاروان عشق به منزلگهش رسد
دیوانه وار با دل هوشیار میروند

# د فرانسې مسلمانان د وخت په ستر آزموین کې

ليکوال: مولوي نعمت الله

ژباړونکی: ډاکتر محمد نذیر احمدزي

په داسې حال کې چې په فرانسه کې له پنځوس لکو تنو ځخه زیات مسلمانان ژوند کوي او د شمیر له درکه د هغه هیواد د لږکیو تر ټولو ستر څواك شمیرل کیږي خو په سیاسي، ټولنیز او اقتصادي ژوندانه کې د فرانسې تر ټولو توکمونو بېوزله او خوار خلك دي. د فرانسې د خلکو زیاته برخه د کاتو لیك فرقې عیسویان تشکیلوي چې شمیر یې پنځه څلویښت ملیون تنو ته رسیږي وریسې اکثریت د مسلمانانو دي چې د پنځوس لکو تنو په شاوخوا کې محاسبه شوي، همدارنگه نه لکه تنه پروتستان او پنځه لکه تنه یهودان هم په دغه هیواد کې ژوند کوي د فرانسې د مسلمانانو زیات شمیر فرانسوي الاصله وگړي دي او یو څه له بهر ځخه ورغلي مهاجرین دي چې په هغو کې لس لکه الجزایریان، پنځوس زره د آسیایي هیوادو مهاجرین د منځني ختیځ د هیوادونو ځخه څلور زره تنه او څه دپاسه دري زره تنه له یوه او بل هیواد ځخه ورغلي خلك دي .
د فرانسې مسلمانان زیاتره د مالکي مذهب پیروان دي ددغه هیواد مسلمانان د جوماتونو د جوړولو حق تلري او دا د فرانسې د حکومت د قانون حکم دي اما د نورو مذاهبو پیروان د ضرورت له اندازې ځخه زیاتې عبادت خانې لري چې په لاندي توگه شمیرل شوي.
عیسویان د ځلوېښت زرو عبادت ځایو لرونکي دي مسلمانان بواځې دولس رسمي جوماتونه لري او د مجبوریت له مخې مسلمانانو په خپلو کورونو اویا جایدادونو کې پټ جوماتونه جوړ کړېدي.
د پروتستانو لپاره نه سوه او وه اتیا او د یهودیانو دوه اتیا عبادت ځایونه موجود دي د پاریس ښاروالي څه موده مخکې مسلمانان پر خپلو ځمکو باندي د جوماتونو له جوړولو ځخه منعه کړل، په هغه هیواد کې د جومات جوړول ډېرې ستونزې لري او په ډېرو مصارفو او کړاوونو یې د جوړولو اجازه تر لاسه کیدي شي هغه هم په دي شرط چې جومات نه به مناره نه ورکوي او لودسپیکر به هم نه استعمالیږي او د غونډو د جوړولو اجازه هم نشته، که څه هم مسلمانان په فرانسه کې د خپل هیواد د سمسورتیا لپاره ښه په اخلاص کار کوي ، هغو ي ښه تکړه داکتران، انجنیران او پوهان هم لري خو د اسلام په سبب هغوي ته په سپکه سترگه کتل کیږي او څه قدر نه لري .
په فرانسه کې له اسلام سره د دښمنې لاملونه په لاندي توگه دي :
۱- فرانسه اسلام ته د دعوت او د اسلام لور ته د خلکو له تمایل ځخه ویره لري.
۲- فرانسویانو ته د مسلمانانو هغه فتوحات ور په یاد دي چې د اندلس له فتحې وروسته مسلمانو مجاهدینو فرانسې ته مخه وکړه او د هغه هیواد زیاتې سیمې یې تر خپلې واکمنې لاندي راوستې.
۳- فرانسه د جهاد له نامه ځخه ډېره ویریږي او دا د مسلمانانو د لوړتیا سبب بولي.
٤- کاتولیکي عیسایانو ته صلیبي جگړې او له مسلمانانو سره نورې دښمنې ښې ور په یاد دي.
٥- په اتمه او لسمه میلادي پیړې کې اسلامي لښکرو د فرانسې پوځ ته ښه سبقونه ورکړي د هغو کسات هم هغوي نه دي هیر کړي.
٦- د صلیبي جگړو پیل هم له فرانسې شوي او د فرانسویانو نیکونو قرآن شریف په فرانسوي ژباړلي او په ژباړه کې یې دا اضافه کړې چې مسلمانان د فرانسې دښمنان دي.
د فرانسې ددوه تیرو مشرانو فرانسوا میتران او دیستان په وخت کې پر مسلمانانو دومره بې ساري ظلمونه وشول چې ډېر مسلمانان له فرانسې ځخه هجرت ته اړ شول، په زرهاو مسلمانان یې بندیان کړل، بهرته د تللو ویزې یې پرې بندي کړې، پر مسلمانانو ښځو او نجونو باندي یې د حجاب استعمال منعه کړ دا چې فرانسویان پر مسلمانانو ولي ظلمونه کوي ددې موضوع عوامل دا دي :
۱- مسلمانان د فرانسې د اقتصاد د زیاتې برخې واکمنان دي.
۲- څرنگه چې مسلمانان د علمي وړتیاو له کبله په زیاترو ځانگو کې په کارو لگیا دي نو ډېر عیسایان هلته بیکاره پاتې دي.
۳- د الجزایر بدو سیاسي حالاتو هم فرانسویان په غصه کړي ځکه چې هلته د فرانسویانو ستر لاس دي .
٤- په فرانسې کې د بحرونو د چاودلو پوړه د مسلمانانو پر غاړه اچول کیږي .
٥- له الجزایر او المغرب ځخه د مسلمانانو دوامداره مهاجرت او په فرانسې کې د هغوي ډېروالي، د فرانسې خبري سرچینې او وسایل قصداً او په غلطه داسې خبرو ته خپروي چې د هغوي په ترځ کې مسلمانان په فسادونو او تاکراریو کې ککړ بولي او د خلک کرکه د هغوي پر ضد راپاروي.
پورتنیو حالاتو ته په لیدو سره لازمه وه چې مسلمانان باید سره یو شوي واي اما له بده بخته هلته د مسلمانانو نهه سوه سیاسي ډلې دي چې د دوي په دي بې اتفاقې کې هم د فرانسې د استخباراتو ستر لاس دي. او هغوي نه پریږدي چې سره یو شي دا ځکه چې هغوي د مسلمانانو له یووالي ځخه ویره لري او هلته د فرانسې د ټوټه کیدو په معنی تعبیروي، له دي بد حالت ځخه مسلمانان ډېر په تنگ دي خو څرنگه چې د فرانسې استخباراتي ځانگې ډېرې فعاله دي د مسلمانانو لخوا د یووالي هڅې تر اوسه نه دي بریالي شوي، د فرانسې د چارواکو په وړاندي د اسلامي اصولو منل د فرانسې د قانون خلاف ورزي ده او هغوي په دي لټه کې دي چې مسلمانان دېته مجبوره کړي چې اسلام پریږدي (نعوذ بالله منها) دا د غربي ډیموکراسي یوه ښه نمونه ده چې د بشر د حقوقو د فرانسوي ژبې زده کړه جبري او حتمي ده چې په نتیجه کي یې مسلمانان له عربي او اسلام ځخه پردي کول غواړي په اوسنیو شرایطو کي د فرانسې حکومت پریکړه کړې تر څو د مسلمانانو د بې لارې کولو لپاره تش په نامه یو اسلامي پوهنتون جوړ کړي، ددې پوهنتون نوم به صرف اسلامي وي نور به هلته فرانسوي اسلام تدریس کیږي او د هغوي په خیال څرنگه چې مسلمانان له اسلامي زده کړو سره ډېره مینه لري نو ژر تر ژره به هلته مراجعه وکړي او د فرانسویانو په خوښه اسلام به زده کړي، ددې تر څنگ د مسلمانانو د قوت د کمولو لپاره یې د هغوي تر منځ د بې اتفاقي ډېرې حیلې هم جوړې کړې او هره ورځ یوه داسې لویه عملي کوي چې مسلمانان په خپل منځ کې یې باوره او سره لرې کړي، پورتني حالت ته په پام سره د فرانسې مسلمانان په اوسنیو حالاتو کي له یوه سخت آزمایښت سره مخامخ دي خداي «ج» دي هغوي له دې ستر آزمون څخه بریالي راوباسي البته په فرانسې کې د مسلمانانو د خلاصون او یووالي په خاطر اسلامي نړۍ هم ستر مسؤولیتونه لري چې باید چارواکي یې تر خپله وسه سرته ورسوي.

## د سرپرستي شورۍ محترم مرستیال د ...

وېناوو په کولو سره د افغانستان د اسلامي امارت د لوړو هدفونو د عملي کولو په خاطر خپله هر اړخیزه همکاري څرګنده کړه او وې ویل د پچیر او اګام ولسوالي خلک تل د اسلامي نظام د ارزښتونو په دفاع کې دي او د افغانستان د اسلامي امارت د هدفونو د رښتیاني په لاره کې له هیڅ راز سرښندني او ځان تیریدني نه ډډه نه کوي.

وروسته د سرپرستي شورا مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر د خبرو په ترځ کې وویل چې د ننګرهار ولایت خلکو او په تیره بیا د پچیر او اګام ولسوالي خلکو د افغانستان د نورو مجاهدو خلکو په شان د اسلامي ارزښتونو او د افغانستان د مسلمانو خلکو د لوړو ارمانونو د دفاع په لاره کې له هیڅ راز سرښیندنو او ځان تیریدنو نه ډډه نه ده کړې چې موږ یې زیات درناوي کوو. موږ ستاسو دغو اسلامي ولولو ته د قدر په سترګه ګورو واقعیت دا دي چې د اسلامي ارزښتونو او د هېواد د مقدس حریم د دفاع د ټاټوبو ډېر ښه د دیني او ملي دندو د تر سره کولو لپاره په تیاري کې نغښتي دي.

## پیښې او پرمختګونه — حادثات و انکشافات

### اجلاس وزراي امور خارجه شوراي همكاري خلیج بر گزار گردید

وزراي امور خارجه شوراي همكاري خليج ديروز در رياض مركز عربستان سعودي تشكيل جلسه دادند .

اين جلسه به ادامه نشست هاي نوبتي اين شوري براي بررسي تحولات جديد و مسايل علاقه كشور هاي عضو صورت گرفته كه در ظرف سه ماه يك بار در مقر اين شوري در رياض برگزار ميشود.

**رئيس شوراي همكاري خليج اظهار كرده است وزراي خارجه كشور هاي عضو شوراي همكاري درين نشست شان آخرين تحولات روند صلح شرق ميانه را تحت غور قرار خواهند داد .**

### د هند په نیمه وچه کې د سختو جګړو احتمال

### د هند له خوا له څلورو خواو په پاکستان د حملې تیاري نیول کیږي

هندوستان د پاکستان پر خلاف د جنګ لپاره ځان چمتو کړي دي او داسې یې پټیلې ده چې له څلورو خواو نه پر پاکستان حمله وکړي په دې لړ کې د هند لوي درستیز د ارجنټاین پتهه دوره هم کړې ده او خپلو قواو ته یې د تیارسي حکم ورکړي دي، همدا راز د پوځ د ضرورت ور اوبو لپاره یې د یوه نهر کیندل تکمیل کړي دي بل خوا د پاکستان د اطلاعاتو او کلتور وزیر مشاهد حسین سید ویلي دي چې پاکستان د شپږو نورو هندي عسکرو مړي هند ته سپارلي دي او د هند یوه حمله یې هم په شا تمبولې ده په یوه حمله کې د هند شل ته عسکر وژل شوي دي.

### مذاكرات ايالات متحده امريكا و ليبيا در جهت لغو تعذيرات بر آنكشور آغاز يافت

**كشور هاي ايالات متحده امريكا و ليبيا ديروز براي اولين بار پس از بيست سال مذاكرات رسمي و مستقيم را در مورد لغو تحريم هاي سازمان ملل متحد عليه ليبيا آغاز كردند .**

در اين مذاكرات كه تحت رياست كوفي عنان سر منشي سازمان ملل متحد ميان نماينده گان دو كشور در سازمان مذكور صورت گرفت نماينده حكومت انگلستان نيز حضور داشت.

قرار است سرمنشي سازمان ملل متحد ظرف دو هفته آينده گزارشي را در زمينه رفع كامل تعزيرات عليه ليبيا به شوراي امنيت سازمان ملل متحد ارائه دارد.

پس از جلسه ديروز نماينده ليبيا در سازمان ملل متحد مذاكرات را مثمر ارزيابي نمود.

شوراي امنيت سازمان ملل متحد در سال ۱۹۹۲ به منظور تحت فشار قرار دادن ليبيا براي تحويل نمودن دو ليبيايي مظنون به بمگذاري در يك طياره امريكايي تحريم هاي را به آنكشور تصويب نمود . تيره گي روابط ميان ليبيا و ايالات متحده امريكا پس از تسليم دادن دو ليبيايي مذكور به محكمه بين المللي در ماه اپريل رفع گرديده است .

### يك زن قزاقي با بم دستي به همسرش حمله كرد

خبرگزاري ايتر تاس اعلام كرد يك زن قزاق در شهري واقع در حاشيه درياي خزر كه همسرش وي را فريب مي داد تصميم گرفت با بم دستي اقدام به تصفيه حساب كرده و انتقام خود را از وي بگيرد اما به دليل آنكه همسر اين زن قزاق داراي تجربياتي در ارتش بود از آن بم جان سالم بدر برد. به گفته پوليس نقشه زن قزاق با شكست رو برو شد زيرا وي پس از آنكه همسرش را بسوي حويلي خانه كشيد نتوانست به موقع بم را منفجر سازد.

همين چند لحظه تاخير به همسر زن قزاق كافي بود تا پس از آگاه شدن از اوضاع خود را در كنار انفجار قرار دهد و جان سالم بدر برد اين زن قزاق توسط پوليس دستگير شده است . پوليس گفت اين نخستين باريست كه در يك نزاع خانواده گي اين نوع سلاح مورد استفاده قرار ميگيرد.

### شير اشتر براي درمان مريضي سل تاثير مثبت دارد

تحقيقات محققان مركز تحقيقاتي ملي هند نشان ميدهد كه شير اشتر با تحريك اشتها **و افزايش وزن موجب بهبود نظام ايمين بدن انسان ميشود و در علاج مرض سل از عوامل با اهميتي است .**

آزمايش انجام شده توسط مركز تحقيقات ملي هند به روي هشت مريض سل نشان **ميدهد كه تا حدي قابل توجهي مريضي سل و زخم روي شش هاي اين گروه از مريضان بهبود يافته است .**

**دانشمندان هندي گفتند : شير اشتر حاوي نوع انديم موسوم به ليزوزيم است كه از رشد باكتري سل جلوگيري ميكند. در كنار مصرف اين نوع شير داكتران افزايش خون را نيز در بدن اينگونه مريضان مورد توجه** قرار داده اند اين تحقيق توصيه ميكند كه مصابين به مرض سل روزانه يك ليتر شير خام اشتر مصرف كنند وضعيت شش هاي شان بهبود مي يابد.

## مطابق اعلام کمیسارۍ ...

در سال آينده به وطن شان برگردند.

**كميساري عالي از همكاري پاكستان و ايران در برگشت مهاجرين قدرداني نموده است .**

سازمان ملل مي گويد كه برگشت مهاجرين داوطلبانه بوده و آنان جبراً از هيچ كشوري خارج نخواهند شد.

## طالبان په ولس کې ...

چې د ځینو مغرضو هېوادونو سره یې اړیکې، تودې دي چې په هغوی کې د پخواني شوروي اتحاد وارثه (روسیه) د پام وړ ده .

روسیې زموږ په هېواد کې د خپلو لاسوحنو د دوام پریکړه کړې ده او په همدې منظور یې په تاجکستان کې افغان پولې ته نژدې د نظامي هډې جوړولو اعلان کړی دی.

## حد شرعي بالاي سه ...

موظفين امنيتي ولايت فارياب دستگير و جهت باز پرس و تحقيقات به پنجه قانون شرعي سپرده شدند.

آنان در جريان تحقيقات بدون جبر و اكراه با جرم قطاع الطريقي و رهزني اعتراف نموده و حكم تطبيق حد شرعي از سوي محاكم ابتدائيه و مرافعه ولايت فارياب بالاي قطاع الطريقان صادر كه بعد از تائيد محكمه تميز ستره محكمه امارت اسلامي و تائيد و توشيح عاليقدر امير المؤمنين حكم محاكم ثلاثه بعد از آنكه توسط محترم مولوي محمد طاهر رئيس محكمه شهري ولايت فارياب قرائت گرديد بالاي آنان ديروز در محضر عام در شهر ميمنه تطبيق و دست راست و پاي چپ هر يك از مجرمين قطع گرديد.

قابل ياد آوريست كه پس از تطبيق حكم محاكمه پول نقد و پنج قاب ساعت بدست آمده از نزد قطاع الطريقان دو باره به مالكين اصلي آن تسليم داده شد.

## مشكلات و پرابلم ...

اندخوي، شهر شاهي و كلدار طي نشستي **ملاقات نموده مشكلات و پرابلم هاي اهالي ولسوالي هاي متذكره را مورد غور ، بررسي و ارزيابي قرار داده بخاطر رفع مشكلات و پرابلم هاي موجود اهالي آن ولسوالي ها به مسؤولين مربوط هدايات لازم داد.**

**بامقابل تني چند از موسفيدان به نماينده گي از اهالي ولسوالي هاي مذكور حمايت و پشتيباني همه جانبه شانرا از دستآورد هاي امارت اسلامي ابراز داشته وعده سپردند كه بخاطر رفع مشكلات و بهبود زنده گي مردم از همكاري و مساعي مشترك دريغ نورزيده و مسؤولين امارتي را در جريان قرار ميدهند.**

## نحوه اجرآآت امر ...

**نهي از منكر كه تحت رياست محترم مولوي محمد ولي سرپرست انوزارت وارد هرات گرديده با محترم الحاج ملا برادر اخند رئيس تنظيمه زون جنوب غرب و والي هرات ملاقات نموده و ضمن بحث و تبادل نظر روي امور ارشادي و عقيدتي آن ولايت و اجرآآت رياست امر بالمعروف و نهي از منكر ولايت هرات را مورد بررسي قرار داد .**

> د هېواد قدرمنو لیکوالو او فرهنګیانو !
>
> شریعت اوونیزه د افغانانو د اسلامي او ملي ارزښتونو د ساتنې ، پالنې او روزنې ټينګ او ړاومن فرهنګي سنګر دی.
>
> راځئ چې په خپلو قلمي لوړنو ، رغنده وړاندیزونو او پر ځای ګوت نیونو د اوونیزې منځپانګه لا بډاېه او د ملي اسلامي ارزښتونو په وړاندې خپل مسؤولیت تر سره کړو .
>
> اداره

## موږ چمتو یو چې د ...

دوا‌ړو سرلوړو او ورونږو ملتونو د دیني او فرهنګي اړیکو د ثبات او زیات ټینګښت تاریخي زوږو. عالي شپږ اړیکو عنعنوي دوستي او پیوستون یادونه شوی او ویل شویدي عربي متحده امارات ستاسو په ځیرکانه مشري زموږ د هېواد روان حالت او مسالو په باب تل مثبت او فعال دریځ غوره کړي چې د افغانستان د اسلامي ملت او امارت په وړاندې د ستاسو د ښه نیت او ښه نظر څرګندوي دي. هیله لرو چې دغه دوستانه ووروګلوبزي اړیکې زموږ او ستاسو د خلکو په ګټه لازیاتې پراختیا او ټینګښت ومومي په پیغامونو کې زیاته شویده چې نن د مخدره موادو د غیر مجاز د تولید ترافیکو او استعمال زیاتیدل د بشري ټولنې تر ټولو په دردونکې او زوروونکې حساس سیاسي اقتصادي او ټولنیزو پرابلمونو بدل شوی چې د هېواد اقتصاد ، سولې امنیت او ملي واکمنې لپاره یې ستر خطرونه متوجه کړیدي.

موږ بشپړ باور لرو چې د مخدره موادو د تولید قاچاق او ناجایز استعمال په ضد اغیزمن او ګټوري مبارزي یوازې د سیمې د هېوادونو ، موسسو او نړیوالو اختصاصي سازمانونو د ګډو او هماهنګو همکاریو په نتیجه کې امکان لري او بس.

د افغانستان اسلامي امارت د مخدره موادو د تولید ، ترافیکو او استعمال د ځانګړو ستونزو په حساسیت او اهمیت باندې په پوهیدلو سره تل د مخدره موادو په کنټرول د نړیوالي ټولنې د ښو هلو ځلو ملاتړ کړي او حاضر او چمتو دي چې د مخدره موادو د ټولو اړخونو په ضد د ګډې مبارزي په لاره کې له ګاونډیو او د سیمې له هېوادونو په تیره بیا له دوست هېواد عربي متحده اماراتو سره د دوه اړخیزو متقابلو همکاریو پروتوکولونه لاسلیک کړي.

ولو لرو چې دغه غوره اقدام او عمل سره ددي چې د دواړو دوستو او ورونږو هېوادونو ملي ګټې یکې دي د دواړو خواوو تر منځ د لازیاتو همکاریو سبب شي

## نن په ټول هېواد کې ...

مخنیوي او وقایې په مقصد ویټامین اې ورکول کیږي . له دې امله له محترمو میندو او پلرونو نه هیله کیږي چې له دغه وخت نه استفاده وکړي او سر له نن نه تر دریو ورځو پورې له پنځه کلنې ښکته خپل ماشومان په ټول هېواد کې د واکسیناسیون د کمپاین د ګرځنده ټیمونو مرکزونو ته بوځي او خپل ماشومان دې د پولیو د واکسین او د ویټامین اې د کپسولونو په تطبیقولو سره د فلج او شبکوري د ناروغیو په وړاندې وقایه کړي .

## اهالي قراء و قصبات ...

ولايت سرپل شركت داشتند نخست آياتي چند از كلام الله مجيد قرائت گرديده بعداً محترم مولوي احسن الله امين سرپرست ولايت سرپل در رابطه به اهداف و برنامه هاي عام المنفعه امارت اسلامي افغانستان به تفصيل صحبت نموده، اوضاع سياسي نظامي كشور و پلان هاي شوم دشمنان مردم افغانستان به شاملين جلسه توضيح نمود. متعاقباً محترم مولوي نقيب الله و حاجي خير محمد اسحق زي به نماينده گي از سايرين صحبت نموده از عملكرد هاي نيك مسؤولين امارت اسلامي در آنولايت به نيكويي ياد آوري نموده گفتند : مردم ولايت سر پل بدون در نظر داشت تعصبات قومي، نژادي و منطقوي و لساني دوشادوش مجاهدين نيرو هاي امارت اسلامي مستقر درين ولايت بخاطر تحقق اهداف والاي امارت اسلامي دفع و طرد دسايس و توصيه هاي دشمنان مردم افغانستان از هيچ گونه سعي و تلاش دريغ نورزيده و در اين امر مقدس صادقانه وظايف شانرا انجام ميدهند.

جلسه با قرائت دعائيه مبني بر تأمين صلح و اخوت اسلامي و نابودي كامل دشمنان مردم افغانستان پايان پذيرفت

| د ګوون بیه له هېواد نه بهر | | |
|---|---|---|
| ملك | شپږ میاشتنی | کلنی |
| پاکستان | RS200 | RS400 |
| د خلیج هېوادونه | SR.150 | SR.300 |
| اروپا او امریکا | US$75 | US$150 |

## تبصره

# د اسلامي اردو بریاوۍ او د نړیوال استکبار دسیسې

**په افغانستان کې د یو سوچه اسلامي نظام د مخالفینو د ټولو هڅو او دسیسو سره سره دا دي الحمد لله په ټول هېواد کې د اسلامي شریعت پلوشې په خپریدو ښکاري او د هېواد په اتنګو کې مو د یو نیم میلون مجاهد شازلمیو شهیدانو او سپیڅلو طالبانو د وینو رنګ په غوړځنګونو ښکاري. سیاسي کشونکې او د افغانستان له حالاتو نه باخبره خلك په دې حقیقت خبر دي چې هر کله چې د افغانستان د اسلامي امارت اتل اردو په کوم جنګي محاذ کې بریالیتوب تر لاسه کړي دي او د ولس هیلې ورسره ژوندۍ شویدي نو د نړیوال ښکیلاك پښې ورسره لړزیدلې دي او په عصباني او سرسام حالت کې بیا په اوتوبوتو او پروپاګنډ پیل کړیدي او یایې د اسلامي اردو د سوبو د اغیز د شتوالي او تر شعاع لاندي راوستلو لپاره نوري پلمې کارولې او په دې اړه یې عملي کمپاینونه په لار اچولي دي او دا کار د یو منظم پلان او پروګرام له مخې له ډېري مودې را پدیخوا روان دي. د بیلګې په ډول کله چې د اسلامي اردو د اتل لښکر لخوا په شمال کې د تاشقرغان ستراتیژي تنګي فتحه شو او د اسلامي امارت د ننې او بهرني مخالفین د ویر په تغر سره کښیناستل نو په دې خاطر چې له بین المللي تناظر نه یې دا سوبه یوې خواته کړې وي او د نړیوالو پام یې تري اړولي وي نو د اروپایي ټولني د ښځو له ځانګړې نه یې د ایماښینو په نوم یوه یې نزاکته او د اسلام دښمنه ښځه افغانستان ته راولیږله تر څو دلته شرارت جوړ کړي او نړیوال اذهان د اسلامي امارت په اړه اندیښمن کړي ، همداراز د مزار شریف له دوهم ځل فتحې وروسته یې داسې شور او غوغا جوړه کړه چې ګواکې طالبانو په مزار کې په «شیعه اقلیت» (اړه کې) تیري کړي دي خو همدې کمونستو او ائتلافي ملیشو په لاس یې دلسوزرونه د ډیرو مخلصو طالبانو په شهادت خولې پټې نیولې وي.**

**همدا راز د مزار شریف له فتحې وړاندې او تر هغې راوروسته چې هر کله هم د اسلامي اردو ځواکونه کومې سیمې ته ورننوتي دي او فتحه کړې یې دي نو که نړیوال ښکیلاك ته کومه بله پلمه په لاس نه ده ورغلي نو د ښځو حقوق خوبي اجاره دي او په دې اړه خو یې په اسلامي امارت پسې له هر ډول پروپاګنډ ځان نه دي سپمولي اوس چې د اسلامي اردو اتل لښکر ددې جوګه شو چې په شمال کې هم تقریباً د مفسدو ملیشو کمپله ورټوله کړي او هلته هم اسلامي نظام نافذ کړي نو نړیوال ښکیلاك یو ځل بیا په هر ډول دسیسو او پلمو لاس پورې کړ او د خپل وس تر حده په دې هڅه کې دي چې څه ډول اسلامي امارت ته ستونزې پیدا کړي چې د لویې جرګې عنوانول ، د ظاهر شاه د راوستلو کمپاین ، د قبرص غونډه او د اسامه موضوع چې ښکیلاك یې هر وخت د اسلامي امارت د بدنامولو لپاره د یوې حربې په توګه کاروي د همدې لړې یو تسلسل دي او دا په خپله ددې څرګندوي دي چې نړیوال استکبار شپه او ورځ د اسلامي امارت په ضد په فعالیت او دسیسو لګیا دي.**

**خو نړیوال ویني چې د اسلامي امارت د دښمنانو د دومره ګرندي او ذهرجن حرکت سره سره بیا هم هره ورځ د اسلامي امارت ریښې په ولس کې ځغلي او د نفوذ ساحه یې پراخیږي که ددې لامل په لنډو ټکو کې خلاصه کړو نو ویلې شو : چې ددې سر ښندونکې پوځ تر شاه معنوي قوت او روحاني ځواك** موجود دی او الله «ج» چې د چا مرستندوی وي نو وروستی بری به هرو مرو د همدوی په نصیب وي همدا راز د افغانستان اسلامي امارت له پراخه ولسي ملاتړ نه هم برخمن دی او کوم نظام چې د ولس له ملاتړ نه برخمن او د همدوی په غوښتنه را منځته شوي وي نو د دنیا هیڅ یو ځواك یې هم د مقابلې توان نه لري او ټوله نړۍ به یې په شور راوستي وي چې بیا هم د افغانستان موجوده اسلامي امارت یې ستره بیلګه ده نو د اسلامي امارت مخالفینو ته پکار ده چې اوس په دې پوه شوي وي چې له اسلامي امارت سره د مخالفت له لارې هیڅ هم تر لاسه کولې نه شي نو ښه به دا وي چې که څه ستونزې ورسره ویني نو د تفاهم او مذاکرو له لارې یې حل کړي .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdul Rahim Saqeb.
Editor: Mula Asadullah Hanifi.
Peshawar ,Tel # : 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press